مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۱/۰۸

# آخر هیڅ

نو بهار د ځمکی سرشي آخر هیڅ
غره رغونه سیم او زر شي، آخر هیڅ

فکر والوزي پرواز کاندي له ځالي
تر آسمان پورې چې بر شي آخر هیڅ

د فرعون د لیونتوب مقام ته گورې
په اجل باندې چې سر شي آخر هیڅ

سقراط شي، افلاطون شي، ناپلیون شي
د لښکرو سر لښکر شي آخر هیڅ

د ترخو زهرو درمل شي چې حکیم شي
چې یې درد خپله په سر شي آخر هیڅ

پیغمبر د زماني شي ـ زمان تیر شي
چې په کفر برابر شي آخر هیڅ

ته کوم ځوان یی چې دې غاړه نه ماتیږي؟
که په نر باندې دې سر شي آخر هیڅ

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ